د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ورک شوی قلم

دویم ټولګی، دویم سمستر، دریمه سویه



د لوستلو لپاره ازمایښتي مرستندوی کتاب

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ورک شوی قلم

## د دویم ټولګي شپږمې اونۍ لپاره

پښتو
مرکز، ننګرهار، افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د "افغان ماشومان یې لولي" پروګرام
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی.

ليکوال: احسان الله سباوون

ايډيټور: همايون رشيدي

انځورګر: جواد طاهري

د تصحيح کمېټه

---

اسلامي او کلتوري: مؤلف شهيدالله عزيزي

ژبنی: د سرمؤلف مرستيال محمدعزيز حسين خېل

بسم الله الرحمن الرحیم



بلال او کريم ټولګيوال دي.
دوی په ټولګي کې ناست
وو.

بلال خپل بکس وکوت.
قلم يې ورک و.
کريم ته يې وويل:
زما قلم تا پټ کړی؟
کريم وويل:
ما به ولې پټ کړی وي؟
زه خو غل نه يم.



بلال وویل:

نو چا پټ کړی دی؟

زما په ښنګ کې خو ته

کېنې.

په همدې وخت کې
ښوونکې ټولګي ته راننوته.
ښوونکې وويل:
بلال جانه!
هغه قلم ستا دی؟
ښوونکي د بلال د مېز لاندې
ځمکې ته اشاره وکړه.



بلال تر مېز لاندې وکتل.
ګوري چې قلم يې هلته
لوېدلی.
هغه خپل قلم را پورته کړ.

کریم ورته وکتل.
بلال پښېمانه و.
کریم ته یې وکتل.
ویې ویل: وبښه! ته مې
ناحقه خپه کړې.
ښوونکي پوښتنه وکړه:
څنګه دې خپه کړ؟
کریم وویل:
ما ته یې ویل چې قلم تا
پټ کړی.



بلال وویل:

ما فکر وکړ چې تا اخیستی دی.

بېننه غواړم.

ښوونکي وويل:

آفرين!

دا ډېره ښه خبره ده.

هر وخت بايد خپله ګناه ومنو.

بايد ښښنه وغواړو او يو بل وبښو.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.